عبدالغفور لېوال
۲۰۲۶/۰۱/۱۸

# د انارو سوداګر

ته چې ولاړې او د ښکلي خدای مېلمه شوې
د جنت په شېدو شاتو کې خوړه شوې
تا وېل: خدای ته چې ځم تا راسره بیایم
بې‌وفا! ته خو یوازې ورستنه شوې

زه به څه وایم، چې روسته ستا له تلو نه
په ما څه راغلل د قاف له لویو غرو نه
یا له قاف نه یا له دښتو د مغولو
دجال واوښته له دنګو دیوالو نه

د وحشي لښکر غبار کې مې شوه برخه
پر غاټولو نوره نه پرېوته پرخه
ستا د شونډو بدخشان راڅخه ورک شو
راروان شومه د زړه له ورانه بلخه

قلندر شومه مرئ مې کړې په بند کې
سل اویا اوښان مې واخیستل اېلبند کې
څو غمي مې د چورمو په واسکټ سکښتي
ګردلمنی مي راواغوست په هېلمند کې

را روان مې سل اویا اوښان کتار کړل
راشېوه مې په دامان د کندهار کړل
کندهار لکه ستا غاړه کې سور هار و
تري انار مې په کتار اوښانو بار کړل

ستا د حسن په بګرام کې شهنشاه وم
ستا د قد د بامیکان ولاړ بودا وم
اوس نو راغلم سوداګر شوم د انارو
د کابل هرې کوڅې سره اشنا وم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

د کابل هرې کوڅې کې ستا اواز و
خرابات دې د زرينو ګونګرو ساز و
عاشقان او عارفان وو ستا يادونه
په خاموش بالاحصار باندې دې ناز و

ته دا پرپړده، زه نو داسې سوداګر شوم
ليونی غوندې په ورکو لارو سر شوم
په انارو بار اوښان مې شول ملګري
راروان د هيندوستان په اوږد سفر شوم

سکندر هم هيندوستان ته و راغلی
په نيزو، غشيو او زغرو و پوښلی
سکندر په ځان پسې و، مېين نه و
په لټون د ورکې نه‌و راوتلی

سکندر به رسېدلی وې که نه وې؟
د ځان پل به يې موندلی وې که نه وې؟
دا چې ځوک و او له کومه و راغلی؟
دا ځواب به چا ويلی وې که نه وې؟

خو زه نه يمه په ځان پسې راغلی
نيمه خوا ستا له لمبې يم پاتې شوی
د پتنګ پر وزره هغه ميناتور يم
چې لا شمعې پوره نه‌يمه سيزلی

ته دا پرپړده، اوس په لويه لار روان يم
په انارو بار اوښان زه يې ښاروان يم
له کابله وړم ستا يو ګريوان عطرونه
زه پاچا اوس پرديسې د هيندوستان يم

له لاهوره تر ډيلی او تاجمحله
د اوښانو بار سپکيږي يو تربله
ستا د سپينې پښې راپاتې يو پايزېب دی
چې شرنګيږي مې په زړه کې تل ترتله

اوازه شوه هيندوستان کې چې انار دي
لکه زړه د عاشق ډک د کندهار دي
سوداګر يې يو مېين، يو ليونی دی
سره اوښان دي او په سرو غميو بار دي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

«کابلي والا» پټان دی قلندر دی
و پاچا، اوس د انارو سوداګر دی
چورمه‌داره يې واسکټ، ګرده لمنه
د پايزيب د شرنګ په ژبه هم خبر دی

ربابي دی په شاتار يې ګوتې ګرځي
په ګونګرو او په سپتار يې ګوتې ګرځي
تر شرابو ډېر مين په پيالو سترګو
د ساقي په هر يو وار يې ګوتې ګرځي

اوازه ده د انارو او اوښانو
راروانې قافلې دي د جوګيانو
هر انار د کندهار په تبرک دی
د خرقې بوی يې لګيږي په چشتيانو

بنارس لکه بڼکه د تاووس دی
د رنګينو رڼاګانو اقيانوس دی
د يوه اوښ انار پاتې نور يې تللي
د ګنګا پر غاړه بل روستی پانوس دی

شهزادګۍ د بنارس ډولۍ کې راغله
کجاوې ته د انارو ده ولاړه
د ورېښميني پردې شاته لکه سيوری
په زربفتو يې پوښلې ده هينداره

وايي: څو سکې د زرو غوارې خانه!
ټول انار د کجاوې اخلم له تا نه
خو انار به تر مانۍ راوړې پخپله
د زربفتو ډولۍ مخکې شوه روانه

اوښ مې چو کړ په ډولۍ پسې روان يم
په ورېښم کې ستا اواز دی او حيران يم
نور نو نه‌يم پوهېدلی چې څه کيږي
ستا اواز دی او زه وران يم او زه وران يم

رڼاګانو را په سد کړمه مانۍ کې
لکه ناست يم د بګرام په پاچهۍ کې
نه! دا زه يم، بنارس دی او جامونه
انار ايښي دي د زرو په توکرۍ کې

بالښتونه، بخملي څوندي يې زانګي
په غميو پټ زرين جامونه خاندي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ

يو سېتار نقش و نګار په تخت ولاړ دی
فواري ته نيلوفر په ډنډ کې لامبي

زه مېلمه يم د ساقي په لاس کې جام دی
او سپوږمی ته د چندڼ د ښاخ سلام دی
يخ يخ باد سپينو ديبا پردو کې ناڅي
د کابل د منو بوی د باد پيام دی

د وريښمينو پردو شاته د ګام شرنګ شو
چېرته پټ نری نری د سېتار ترنګ شو
ساقی غوږ ته رانږدې شوه په کراره
د جام زړه د انګورتاک په وينو رنګ شو

چا په غوږ کې راته وويل غلې غلې
دا شراب يې له شېرازه دي راوړي
دلته ناڅي شهزادګی د بنارس نن
د ساز رګ کې يې شرنګی د پايزيب ځغلي

روهيليه! بختوره! ډک دې جام دی
ګرځېدلی دې دا ټول جهان په کام دی
نن به بت د غرور ستا په مخ کې ناڅي
نن ماښام زهرې ته مخامخ بهرام دی

شرنګهار شو د ګامونو په دالان کې
نيمه شپه کې لمر راوخوت په ايوان کې
د وريښمو پرده پورته په اداب شوه
د رنګونو منشور ړنګ شو په روان کې

شها راغله د نازک حرير پرده کې
سپوږمی پريوته د ميو په پياله کې
سپين کميس يې د وريښمو شرشره و
ته ولاړه وې د زړه په ايينه کې

پايزېبونه سندرغاړي د هوس شول
په قدم قدم يادونو ته جرس شول
نيلوفرو تلاوت د حسن وکړ
و شها ته فرش په لار د بنارس شول

د تبلې تالونه ټال شول د ضربونو
ميناتور شو کوږ شرنګی د سېتارونو
ساقي ځار شمه د بلې پيالې وار دی
راشه بلې کړه لمبې مې په فکرونو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

د شها ګوتې شوې پورته له ادابه
نیمه زنه یې ښکاریږي له حجابه
اذا زلزلت مې ګډ شو په هډونو
دا کیفیت به مې کړي لا پسې خرابه

جام نه ووته: سا رې مه په ګه نې سا
ډیوه رپږدي: تینتنانا تینتنانا
په نقره کې د انارو ډک رګونه
صراحي ده په قل قل، ساغر په هاها

د شها یوه پینه تاو شوه له بلې
د پیروي ډنډ ګونګرې وشرنګولې
له غیرته یې حنا پنجې خولې کړې
د خوشبو له تیو پې راخښېدلې

د ګبینو سمندر موسیقي راغله
د وریښمین درد په بستر موسیقي راغله
چې شها راتاوېده د لمبې ژبه
زما سکروټه په پرهر موسیقي راغله

سمندر ومه ډوب کړې چې قیامت شو
په اسمان وم ګرځېدلې چې قیامت شو
شها یوناڅاپه پورته لوپټه کړه
ستا حضور ته وم لویدلې چې قیامت شو

شها ته وې، نڅا ته وې سرود ته وې
حضور ته وې، پیدا ته وې وجود ته وې
چې د کیف و درد له اوره سپین راوخوت
د حیرت د اورکدې هغه دود ته وې

ما دې ورو د پایزېبونو ګونګرې ښکل کړې
چې په پینو مې د نکریزو د رنګ ګل کړې
تر لمنې دې شوم تاو لکه پېروته
که در هسک مې په انارو د ګوګل کړې

د انارو سوداګر ومه پاچا شوم
ورک کابل وم بنارس کې راپیدا شوم
سل اویا اوښان مې بار لاچي لونګ کړل
د خوشبو خوله په غاړه د شها شوم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په نڅا نڅا دې لاس کې انار واخیست
په کشمیر سینه دې هار کندهار واخیست
انار مات شو ستا د سپینو ګوتو ناز ته
شرشره کمیس دې اور د انګار واخیست

زه لا پروت وم ښکلول مې پایزېبونه
وچو شونډو مې پرانیستي وو زخمونه
د ژوند سورڅاڅکی مې ولویده په خوله کې
لاس مې ونیسه، چې دواړه سره ځونه




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ